# د مشورتي لويې جرګې ترشا سياسي اهداف څه دي

محمد اشرف غني تيره ورځ (غويي ۹مه ۱۲۹۸) د مشورتي لويې جرګې غونډه د لويې جرګې په خيمه کې پرانسته چې ويل کيږي شاوخوا ۳۲۰۰ کسانو د افغانستان له ۳۴ ولايتونو په کې ګډون کړی. د ولسمشر غني په خبره، دغه جرګه په دې موخه جوړه شوې تر څو حکومت ته له طالبانو سره د سولې د خبرواترو چارچوکاټ او حدود وټاکي چې افغان حکومت د هغې په رڼا کې له طالبانو سره مذاکرات مخته يوسي.

دغه جرګه په داسې حال کې روانه ده چې له استاد سياف پرته، نورو ټولو سياستوالو په کې خپل د نه ګډون اعلان کړی او تحريم کړې ده. افغان سياستوال ولسمشر غني د سولې په مخ کې خنډ بولي او وايي چې غني خپلو سياسي موخو ته د جرګې له لارې مشروعيت ورکوي او دا يوه فرمايشي جرګه ده.

جرګه د څه لپاره او ولې جوړه شوه؟

د اشرف غني په مشرۍ حکومت قانوني موده د روان کال د غبرګولي په لومړۍ نيټه پای ته رسيږي او په همدې وخت کې، د امريکا له خوا له طالبانو سره په روانو خبرواترو کې سخت څنډې ته ساتل شوی دی، دا ځکه چې طالبان نه غواړي له حکومت سره خبرو ته کېني. ولسمشر غني د لاندې مسايلو لپاره مشورتي لويه جرګه جوړه او تمه يې ترې دا ده:

۱ - ولسمشر غني او په غربي ثقافت روزل شوی ټيم يې غواړي چې يوه دوره بيا په قدرت کې پاتې شي او د فقير او مظلوم ملت بيت المال چور او تالان کړي، لکه څنګه يې چې په تيرو څلورو کلونو کې وکړ.

۲ - ولسمشر غني او ټيم يې له درې لورو څخه سخت تر فشار لاندې دی او کابو دغه درې لوري ورته يو خوا ته شوي دي: ۱) امريکايي حکومت، ۲) طالبان، ۳) او افغان سياستوال او سياسي احزاب. نو له دې درې لورو سره د مبارزې په موخه، اړينه وه چې يوه لويه جرګه جوړه کړي او خپلو سياستونو او اهدافو ته ولسي مشروعيت ورکړي. اوس به هم امريکا، هم افغان سياستوالو او حتی طالبانو ته ووايي چې: څه چې زه کوم، هغه د ولس پريکړه ده، نه زما شخصي خبره.

۳ - په ډير احتمال چې لويه جرګه به اشرف غني ته و وايې چې له طالبانو سره په مذاکراتو کې د افغان ولس رسمي او مشروع استازی افغان حکومت دی او بل هيڅوک حق نه لري چې دغه خبرې مخته بوځي، چې په دې سره به له يوې خوا د افغان سياستوالو او طالبانو تر منځ د سولې د خبرو لړۍ کمزورې او حتی بې بنسټه شي او له بل لوري به افغان حکومت تر ډيره بريده له اوسنۍ انزوا څخه و وځي.

۴ - جرګه به اشرف غني ته له طالبانو سره د خبرواترو سرې کرښې او حدود وټاکي، چې په ډير احتمال هغه به دا وي: د جمهوري نظام ساتنه، د ښځو د اوسنيو حقوقو ساتنه، د اساسي قانون بدلون په داسې ډول چې په خپله قانون کې يې وراند وينه شوې، تر ټاکنو پورې په واک کې پاتې کيدل، د ولسمشريزو ټاکنو تر سره کيدل او د تيرو اتلسو کلونو د لاسته راوړنو ساتنه. دا هغه څه دي چې اشرف غني يې غواړي او په همدې موخه يې جرګه رابللې.

۵ – جرگه به پریکړه وکړي چې له حکومت پرته، هیڅوک له طالبانو سره د سولې د مذاکراتو د مخته وړلو ولسي او قانوني مشروعیت نه لري او یوزانۍ قانوني او ولسي مرجع افغان حکومت دی او بس. چې دا به د اشرف غني له خوا په خپلو افغان سیاستوالو یو سخت ګزار وي.

٦ – اشرف غني او ټیم به یې امریکایي حکومت ته و وایې چې موږ د افغان ولس د ارادې ممثلین یو، او له دې لارې به خپلو غوښتنو ته یو ډول ولسي مشروعیت او قوت ورکړي چې په امریکایې لوري هم قوي فشار راوړل شي، تر څو یې خبرو ته غوږ کښیږدي. تر جرګې مخکې، د اشرف غني په ټیم کې دغه څانګړنه نه وه چې دا به د جرګې له لارې تر لاسه کړي.

۷ – اشرف غني او ټیم یې پوهیده چې که له طالبانو سره د سولې خبرې مخته لاړې شي، نو نه یې په خبرو کې ځای شته، نه په موقت یا سرپست حکومت کې، نه په ولس کې او نه هم د سولې د احتمالي تړون وروسته. ځکه چې ټولې خواوې ورسره په سخته تربګنۍ کې دي او د ټولو زړونه یې ور تور کړي دي.

۸ – بالاخره به د سولې مشورتي جرګه د اشرف غني د سیاسي عمر بقا تر ډېره بریده تضمین کړي، هغه څه چې له جرګې پرته یې تضمین ډېر لرې او حتی ناممکن وو. خو دا باید و وایم، چې که امریکا له طالبانو سره د سولې په مذاکراتو کې جدي وي، نو بیا دا ټولې مسئلې بې معنا  او بې اغیزې دي.

لویه جرګه به ولس ته څه ورکړي

تر ټولو مهمه او بنسټیزه خبره د افغان ولس خیر او مصلحت دی. خو دا باید واضح او روښانه وي چې نه جرګه په دې موخه را غوښتل شوې چې د افغان ولس ناخوالو ته یوه د وتلو لار پیدا کړي او نه هم اشرف غني د دې مسئلې په غم کې دی. بلکې اصلي خبره د اشرف غني او د هغه د ټیم دسیاسي قدرت د بقا تضمین دی او بس. د افغانستان په نږدې ۲۰۰ کلن تاریخ کې، دا ډول فرمایشي او نندارېزې لویې جرګې ډېرې جوړې شوې دي، چې یوازې د وخت د حاکمانو سیاسي ګټو ته یې توجیه او مشروعیت ورکړی او بس. نو دا جرګه خو تر هغو ډېره-ډېره سمبولیکه، فرمایشي او د ښکیلاک تر چتر لاندې جوړه شوه، چې طبعا پایلې به یې تر هغو ډېرې خطرناکې او د واکمن ټیم په خدمت کې وي.

**خالد مشعل**